# د شيدا په شاعرۍ کښې ګړنې

**Idioms in Sheda's Poetry**

جمشيد خان رشيدي*

**Abstract:**

Kazim khan Shida , one of the great literary figure of his time who has presented many works to Pashto literature on which most of the authors work and explore the various aspects of his life, works and poetry now. So, I also choose to work on the valuable idioms and words of him in which he has discussed about the Pashtuns life and culture. Idioms are the linguistic structures and expressions which meanings cannot be inferred from the meaning of words that make it up but used to express the metaphorical meaning.

**Key words:** Pashto, Classic Literature, Shida, Poetry, Idioms.

په پښتو کلاسيک ادب کښې کاظم خان شيدا د خپل مهال د يوه ستر ادبي شخصيت په توګه ډېر څه په پښتو ولورول، څکه اوس د شيدا د ژوند او شاعرۍ په بېلابېلو خواوو ليکوال ليکنې کوي او د ده هره خوا راسپړي او په پښتو ادب کښې يې زياتوي؛ نو ما هم د يوې علمي مقالې لپاره د کاظم خان شيدا په شاعرۍ کې هغه ارزښتناکه مرغلري او د کار خبرې ټاکلي چې په هغه کې د پښتنو د ژوندانه تفسير او کلتور مطالعه کولای شو، دغه با ارزښته مرغلري د شيدا په شاعرۍ کې محاورې دي چې شيدا په خپلو اشعارو کې کارولي دي.

محاورې هغه ځانګړې ژبني ترکيبونه دي چې تل په دويمه او مجازي معنا کارېږي، همدارنګه خپله اره معنا له لاسه ورکوي او يو نوی مفهوم چې دويمه، ځانګړې او مجازي معنا ورته وايو راخپلوي.

د شيدا شاعري که څه هم سخته ګڼل شوې، خو کله چې د ده شاعري مطالعه شي او نادرو تشبيهاتو، استعارو، کنايو، متلونو، محاورو او اصطلاحاتو په مفهوم لوستونکي پوه شي او سم يې ولوستلی شي، نو بيا ترې يو ځانګړی خوند چې د ډېرو شاعرونو په شعرونو کې نه ليدل کېږي اخيستلی شي، همدارنګه په شعر کې د محاورو راوړل او کارول د شعر په ښکلاييز اړخ کې لويه ونډه لري، شيدا هم د کلاسيکې دورې د يو ستر مضمون پنځوونکي شاعر په توګه په خپلو شعرونو کې محاورې کارولي چې نه يوازې د ده شعر ته يې ښکلا وربښلې ده، بلکې په ژبه کې يې د محاورو له بډاينې سره هم مرسته کړې ده.

* Research Associate, Kabul Education University.

د شیدا په اړه چې څومره لیکل کېږي بیا هم لږ دي، ځکه دی هغه شاعر دی چې هندي سبک ته وده ورکړه او تر بشپړتیا تر پړاوه رسولی همداراز یې په اشعارو کې خوندورې محاورې چې د هندي سبک ځانګړنه ده،راوړې او کارولي دي او خپل شعر ته پرې ښکلا او رنګیني بښلې ده، چې په دې لیکنه کې له هغې معنا سره چې اوس کارول کېږي راټولې شوي، سپړل شوي او څېړل شوي دي چې په دې سره به د پښتو ژبې هغه محاورې چې له کاره لویدلي یو ځل بیا راژوندۍ شي.
د دې څېړنې ارزښت دا دی چې د ژبپوهانو او ژبڅېړونکو لپاره ګټور مواد لري.

همدارنګه بل ارزښت یې دا دی چې له یوې خوا به د شیدا د ژبې قوت راڅرګند کړې او بله پلوه به د پښتو ژبې د محاورو د راټولو لامل شي او هم به د دغې ژبې د ارخاییکو لغاتو چې په دغو محاورو کې کاریدلي دي د خوندي پاتې کیدلو لاره هواره کړي.

دغه موضوع د متنپوهنې او ژبپوهنې په برخه کې ډېره د ارزښت وړ ده.
د دې څېړنې ارزښت په دې کښې دی چې لوستونکي به د کاظم خان شیدا په شاعرۍ کې د راغلو محاورو د کارونې او استعمال سره بلد شي او لوستونکو ته به څرګنده شي چې محاورې شعر ته څومره ښکلا ورکوي او شیدا څه ډول خپل شعر د دغو برخو په کارونې سره خوندور کړی دی.

**د شیدا په شاعرۍ کښې ګړنې :**

کلاسیک ادبیات هغه ادبیات دي چې هیڅ وخت خپل ارزښت او نوی والی له لاسه نه ورکوي، کاظم خان شیدا هم د کلاسیک ادب یو مخکښ او نوموتی شاعر دی، چې د هندي ادبي مکتب بشپړونکی او نوښتګر شاعر بلل کېږي، په پښتو ژبه کې یو نوی قدم اېښی هندي سبک یې په پښتو ژبه کې مروج او د پوخوالي پړاو ته رسولی.

"شیدا حنفي مذهب، د نقشبندیه طریقې صوفي، دینداره او پرهیزګاره انسان و، واده یې نه و کړی.(1)

په پښتو ادب کښې د هندي سبک بنسټګر عبدالحمید مومند دی، خو کاظم خان شیدا خپل شعر په بشپړ ډول د هندي سبک په خم کې رنګ کړی او د نازکخیالۍ او موشګافۍ له پلوه یې هنر بې سیاله او بې مثاله وګرځوه او په دې ځانګړنه کې د ده غوندې بل شاعر نه شو پیدا کولای.

خو شیدا د ګړنو په استعمال کې بیا ځانګړې مهارت ښودلی دی، چې دا مقاله د شیدا همدې برخې ته چې څنګه یې د پښتو ګړنې په خپله شاعرۍ کې کارولي دي ځانګړې شوې ده، چې دغه محاورې د شیدا په دېوان کې لومړی پیدا شوې او بیا له دویمې معنا سره په تشریحي ډول راوړل شوې دي.

کاظم خان شیدا چې د دېوان خاوند شاعر دی، د ژوند او کورنۍ معلوملو په اړه یې رفیع صیب په پښتو ادب کې یو ناحله موضوع حل کړې او د لوستونکو شکونو ته د پای ټکی اېښی دی او په دې

باب یې یو ځانګړی اثر (آوره شیدا) چې د نورو لیکوالو اټکلونه، روایتونه، شکونه، ټکونه، سندونه او لاسوندونه یې لومړی راوړي او بیا یې تر لاسه شوې نتیجه وړاندې کړې ده.

دغې نابغه شاعر په خپله شاعرۍ کښې د ژبې، خیالاتو، ترکیبونو، تشبیهاتو، استعارو، کنایو، لفظي او معنوي صنعتونو، محاورو، اصطلاحاتو او متلونو هغه ټولې خوبۍ راجمع کړي دي چې د شاعرانه حسن اضافي صفتونه یا شاعرانه لوازم ګڼلی شي او د دغو برخو په کارولو سره یې پښتو شاعري د فن معراج ته رسولې ده.

"د شیدا شعر او شاعري په پښتو ادب کښې ځانګړی او منفرد مقام لري او د تذکره کاملان رامپور دا لیکنه چې نه داسې څوک راغلی نه به راشي حتی په فارسي کې هم د بحث وړ دی، که کامل صاحب مبالغه او غلو هم ګڼلې د ده د انفرادیت په برخه کې ډېره مبالغه نه ښکاري." (2)

"شیدا نوي خیال او تازه مضمون پسې د تلاش په بهیر کښې د نورو ژبو، په تېره بیا د فارسي کلمو او اصطلاحاتو له کارولو سره د خپلې ژبې لمن پراخه کړه چې د ده ژبه یې طبیعتاً کړکېچنه کړې، عام ژبني او ثقافتي ارزښتونه، مثلاً: محاورې، متلونه، انګېرنې، علامونه، تلمیحات او اسطورې البته د شیدا په شعر کې پرېمانه دي".(3)

دا چې دغه مقاله د شیدا په شاعرۍ کښې ګړنو ته ځانګړې شوې ده، اړینه ده چې د ګړنې په اړه هم یو څه ولیکم.

**ګړنه یا محاوره**

ګړنه (idioms) چې په لنډه تنګه جوله کښې ډېرڅه رانغښتلای شي په دې اړه عبدالکریم عامر صیب داسې لیکي: محاوره د عربي ژبې توری [کلمه] دی چې لغوي معنا یې (مشق، مهارت او خبرې کول) دي او په اصطلاح کښې هغه کلام ته ویل کېږي چې د ژبې خاوندانو د لغوي معنا په نسبت یا غیر نسبتي توګه د یو خاص معنا لپاره مخصوصه کړې وي، یعنې هغه کلام چې د چا توري په خپله غیر حقیقي معنا کښې استعمالېږي محاوره ده.

"عامر صیب په بل ځای کښې لیکي: د ژبې څېړونکي چې پر کومه خبره متفق دي هغه دا ده چې محاوره دوه یا تر دوو زیاتو تورو مجموعه ده، چې له مصدر سره په ګډه د خپلې حقیقي معنا پر ځای د مجازي معنا لپاره استعمالېږي. محاوره د لطیف جذباتو او لوړ سوچ نمایندګي کوي، چې په مختصره جمله کښې د معنا ژوروالی څرګندوي، په کلام کښې د لنډیز رنګ خوروي او مفهومي حسن پاشي، محاوره به پای کښې مصدر ضرور لري او د محاورې په استعمال کښې د مصدر له ټولو مشتقاتو څخه کار اخیستل کېږي"(4)

لیکوال صاحبزاده حمیدالله، محاوره په لاندې ډول راپېژني.

محاوره د عربي ژبې توری[کلمه] دی چې مطلب یې خبرې کول دي. په اصطلاح کښې محاوره د ژبې د ویونکو د خبرو اسلوب بیان ته وایي. زیاتره له دوو یا زیاتو کلمو څخه جوړه وي. محاوره (idiom) چې له یوناني ویي (idioma) څخه راوتلي ده او په پښتو کښې ورته ګړنه وايی، معنا یې ځانګړتیا او ځانګړی څرګندون دی، هغه ژبنی جوړښت چې دا نومونه ورته غوره شوې ځانګړې مانیزه او جولیزه بڼه لري، ددغه جوړښت رغنده توکي په جلا او خپلواک ډول یوه معنا او په ترلي او ترکیبي ډول دویمه او ځانګړې معنا لري.

"کډوال صیب په خپل کتاب (ګړنې، څرګندنې او نومونې) کښې لیکي: محاورې هغه ځانګړي ژبني ترکیبونه دي چې تل په دویمه او مجازي معنا کارېږي، دغه جوړښت خپله اره معنا له لاسه ورکوي او یوه نوي معنا چې دویمه، ځانګړې او مجازي ورته وایو راخپلوي، د ګړنو دغه ځانګړتیا نږدې په ډېرو ژبو کښې یوشان ده او یوازې هغه ژبنی ترکیب محاوره ده چې پورتنۍ ځانګړتیا ولري، نوموړی جوړښت هم په انګریزي ژبه کښې پښتو ته ورته دی، دا د یوې ژبې ځانګړي جوړښتونه دي چې بلې ژبې ته یې اړول یا ژباړل ناشوني دي". (5)

د ګړنو رامنځته کېدل د یوې انګیزې له مخې کېږي او هغه څوک چې په ذهن کښې یوه ګړنه جوړوي او د یوې ځانګړې معنا لپاره یې له خولې راباسي، د ګړنې د رغنده توکو په اره او اصلي معنا پوهېږي، خو په ترلي او ترکیبي بڼه دغه توکو ته بله معنا ورکوي، د بېلګې په توګه ( غوږ خوړل) یوه ګړنه ده لومړنۍ او اره معنا یې د غوږ خوړل، خو دویمه ځانګړې او محاوره یي معنا یې له یوه غږ څخه دغوږ یاغوږونو ربړېدل او ځورېدل دي.

یا هم (سترګو کښې خندل) چې موږ یې په عامو خبرو کښې ډېره استعمالوو، که څه هم د خندا اظهار په خولې سره کېږي، خو د دویمې معنا په توګه چې خوشحالي کول، رضایت ښودل، په سترګو کښې پوهېدل یې موخه ده د ګړنې په توګه استعمالېږي، همدارنګه (لور په لوټه تېره کول) هم یوه محاوره ده، چې معنا یې په یو کار کښې ټګي، برګي کول دي او هسې وخت تېرول دي او یا هم (اسره کول) ګړنه چې د چا نه د څه امید کول او طمع لرل پر وخت استعمالېږي.

د محاورې کاروونکي د شاعرانه مزاج، خیال، پیاوړې ذهن او فکر خاوندان دي، چې ددغه جوړښت د لومړنۍ معنا په رڼا کښې هغې ته دویمه او مجازي معنا ورکوي، چې له دې څخه د لومړنۍ او دویمنۍ معنا تر منځ د اړیکو شتون څرګندېږي چې پرهغې پوهېدل خورا ګران او ستونزمن دي.

ښاغلی استاد محمد اصف صمیم لیکي:

"محاوره چې موږ ورته په نوي نوموئپوهنه (Terminology) کښې ګړنه وایو، د یوې ګړنۍ او لیکنۍ (شفاهي او تحریري) ژبې نظم او نثر دواړو په مستعاره او سمبولیزه شتمنۍ کښې یو د پام وړ او ارزښتمن توکی او لاملی ګڼل کېږي، په تیره په شاعرۍ کښې خو یې شتون د ولسي او ادبي ژبې ترمنځ د یوه پیاوړي او غښتلي پیوستون کارکوي". (6)

ګړنه د ویونکي د زړه خبره ډاکیزه کوي او انځوروي.

محاوره دژبني جوړښت له مخې هغه لغوي ترکیب دی چې له رنګارنګ معنا لرونکو دوو یا ډیرو ویيو او الفاظو رغیدلي وي او نا اټکلیدونی لرغوتتوب ولري، محاره کوم ټینګ، غښتلی او نه تجزیه کیدونکی ترکیب نه دی، بلکې د نوي چاپیریال، دریځ او موقیعت له مخې ببلابېلې بڼې اخلي خو په ګډه چې کومه یوازینۍ معنا رامنځته کوي هغه نه تحلیل کیدونکي معنا بلل کیږي.

محاورې دژبې په دواړو ډولونو (شفاهي او لیکنۍ) کښې کاریږي، همدارنګه په (نظم او نثر) کښې پراخه ونډه لري او له نظم او شعر سره ملتیا یې له دې کبله هم زیاته ښکاري، چې محاورې هم په سیده او مستقیمه توګه او یا د وییونو له لومړنیو معناوو څخه یې موخه نه تر لاسه کېږي.

"په پښتو پښتو تشرېحي قاموس کښې لیکل شوي: محاوره: هغه خبره چې کوونکی یې د یوې لغوي مانا له کبله د یوه خاص مفهوم لپاره استعمالوي، خبرې اترې".(7)

څرګندنه او ګړنه سره توپیر لري، په دې اړه د زیار صیب لاندې لیکنې را اخلو:

" زیار صیب په خپل اثر کښې لیلکلي: څرګندنې (اصطلاحات ) او ځانګړي ډول ګړنې (محاورې) د هرې ژبې له هغو ځانګړو رغښتي او مانیزو توکو څخه ګڼل کېږي، چې هو بهو پر بله نه اړول کېږي او که ټکی پر ټکي له یوې ژبې نه بلې ته واړول شي، ټاکلی جاج او مانا بایلي". (8)

په بل اثر کښې د ګړنې او څرګندنې توپیر په واضح ټکو سره کړی:

"څرګندنه یا اصطلاح له ګړنې سره همدومره توپیر لري چې د ګډې ښندونکې معنا څرک یې له رغندو ټوکونو (متشکله اجزاوو) څخه لږو ډېر لګېدای شي، لکه برخه اخېستل، لاس اخېستل، تر لاسه کول، خوله پر خوله کېدل، مخ پر مخ کېدل".(9)

**د شیدا په شاعرۍ کښې ګړنې:**

شاعران په خپله شاعرۍ کښې ځینې وخت د کلماتو له ساده ګۍ ستړي شي، نو د ګړنو په کارونې سره چې یوه دویمه معنا رازېږوي لاس پورې کوي.

د پښتو ادب په کلاسیکه دوره کښې کاظم خان شیدا یو له هغو شاعرانو څخه شمېرل کېږي، چې شعرونه یې په ګړنو مالامال دي، خو د مقالې چوکاټ ته په کتو سره په دې څېړنه کښې ټولې ګړنې نه

دي راوړل شوي، بلکې د شیدا له دېوان څخه یو څو بیتونه چې شیدا پکښې ګړنې استعمال کړي د دویمې معنا سره راوړل شوي دي، چې په لاندې ډول دي:

شیدا چې د پښتو ژبې یو انځورګر، نازکخیال، عاطفي، انسان دوست او نوښتګر شاعر دی، د ګړنو په کارونې کښې ځانګړی مهارت لري، چې د (تورې خاورې کېدل) ګړنه چې دویمه معنا یې په غم ککړېدل، بدمرغېدل، خوارېدل، لتاړېدل، بې ارزښته کېدل، شرمېدل په لاندې ډول راوړي.

"محبت کړ تورې خاورې
خود قصه د فرهاد اورې" (10)

شیدا په پورته بیت کښې د فرهاد او شیرینۍ د مینې کېسه کوي، چې مینې تورې خاورې کړل، د فرهاد د مرګ په ماتم کښې د شیرینې مینې هم د هغې جامې په وینو رنګ کړې چې د ماتم دغه کېسه تر ځنګل او بیابان پورې ورسېدله.

پورته ګړنې ته نژدې ګړنه د (ځان خاورې کول) دي چې دویمه معنا یې ربړېدل، کړاو ګالل، له ځانه تېرېدل، له چا ځان قرباني کول او ځان معمولي ګڼل دي، چې په دې توګه د سرهند او بخار د مقام، ارزښت او مرتبې څرګندونه شوې ده او شیدا یې په لاندې ډول کاروي:

"که له قدره یې شیدا خبر عنبر شي
ځان به خاورې د سر هند و بخارا کا" (11)

شیدا په لاندې بیت کښې د (بې اوره سوځېدل) محاوره چې د غمجن کښېدل، خپه یا نا ارامه کېدل، په مینه کښې لوخړه کېدل، په مینه غمجن کېدل، په سخت تاو یا ګرمۍ سوځېدل په معنا څومره پر ځای استعمال کړې ده:

"چې دلی اوسو بې اوره
شهۍ ووته له کوره"(12)

**شیدا یو بل ځای وایي:**

"انتظار د خیال ورک کړه
له دې باره یې زړه سپک کړه"(13)

په پورته بیت کښې (زړه سپکول) ګړنه راغلي، چې موخه یې له ځانه بوج لیرې کول، غمونه او اندېښنې ختمول، معاملې خلاصول، د کار سرته رسول دي. همدارنګه شیدا د (واښه په خوله کښې نیول) ګړنه په څومره مهارت سره کاروي:

" لا یې پروت دی بیم په زړه کښې
چې واښه نیسي په خوله کښې"(14)

پورته بيت کښې ننواتې کول، عذر و زارۍ کول، ګرمتيا منل، پړه منل موضوع د يوې ګړنې په کارونې سره په ساده توګه بيان شوي.

شيدا د (اوبه کېدل) ګړنه په لاندې ډول کاروي:

"که نظر پرې د آفتاب شي
د آفتاب چشمه به آب شي"(15)
"منفعل به خود آفتاب شي
د شبنم غوندې به آب شي"(16)

د اوبه کېدل ګړنې دويمه او محاوره يي معنا عبارت ده: شرمنده ګي، سپکېدل، خجالت کېدل، خواريدل، ويلېدل.

کله چې هم يو څه څوک چا ته په غوسه کېږي او يا ترې خفه وي او نه غواړي چې په خوله خپل خپګان او غوسه څرګنده کړي، نو د تندي په ترشولو سره يې پوهېدلی شو، چې دی خپه دی، همدغه قهرېدل، غوسه کېدل، کينه کول، بدنيتي، ناخوښي، په کرکه کتل چې (جبين ترشول) ګړنه ورته کارېږي شيدا په لاندې ډول کاروي:

"د سبا په سعي ګل د مالګې څه شي
کله جوړ دی ترش جبين وشګفتن ته"(17)

شيدا د بې خونده، بېکاره، بې مينې، بې علاقې انسان لپاره (ذوق واښه کېدل) ګړنه څومره ښه کاروي:

"چې مذاق يې د واښه وي
ورته خس تر حلوا ښه وي"(18)

د (سترګې سرې کول/کېدل) ګړنې څخه موخه ډېره ژړا کول، وير کول، افسوس کول، ګيله کول، دردېدل، غمېدل، خواشينېدل، د خپه کيدو اظهار کول دي، چې شيدا يې په لاندې ډول کاروي:

"که ښکاره زما خاطر د لاله داغ ک
په ژړا به سترګې سرې د ګلو باغ کا"(19)
"په هر بزم کښې راياد د تا محفل شي
په ژړا کړم سترګې سرې د شمع موم يم"(20)
" لا دې سترګې لکه زرک په ژړا سرې دي
د قهقهه په خندا شين شې چې وخاندې"(21)

موږ دغه ګړنه (سترګو کښې خندل) په عامو خبرو کښې ډېره استعمالوو، که څه هم د خندا اظهار په خولې سره کېږي، خو د دويمې معنا په توګه چې خوشحالي کول، رضايت ښودل، په سترګو کښې پوهېدل يې موخه ده شيدا په لاندې ډول استعمالوي:

"د نرګس تر ګل يې زياته زېبايي وي
چې په سترګو کښې خندا زما اجمل کا"(22)

شيدا ځينې ګړنې څو ځايه استعمال کړي، لکه: د (ګريبان (ګريوان) پاره کول/کېدل) ګړنه ده، چې دويمه معنا يې ډېر ژړل، وير کول، زيات فرياد کول، رسوا کېدل، شکايت کول، د ليونتوب حالت ته رسېدل دي، چې په لاندې بيتونو کښې استعمال شوي:

"ستا په غم کښې به پاره وو تر لمنې
بارې نه لري فرهاده ګريبان غر"(23)

"ګرېبان ولې پاره ګل د سحر کړ
که ناله د بلبل نه ده درد انګېزه "(24)

"د صحرا دامن به څيرې ګرېبان کا
که رها دتا له قيده شوريده شي"(25)

کله چې هم پر يو چا زړه سېځو، ترحم پرې کوو او خپله همدردي ورسره شريکوو، نو بيا ورته د (اوښکې وچول) ګړنه استعمالوو، لکه شيدا چې وايي:

"څوک په زخم پاهه ږدي د بېکسانو
د يتيم اوښکې کړې وچې په آستين چا"(26)

د (نوم ورکېدل) ګړنه چې رسوايي ته غاړه ايښودل او منل، ورکېدل، سپکېدل، بې پته کېدل يې دويمه معنا ده، په لاندې بيت کښې داسې راوړل شوي:

"د نګين عالم خبر ورځنې نه دی
هسې ورک شه ستا په غم کښې نام زما" (27)

کله چې هم څوک د حيرانتيا او تعجب نه يو شي ته حيران شي، نو بيا ورته د (وازه خوله پاتې کېدل) ګړنه استعمالېږي، چې شيدا يې په لاندې ډول راوړي:

"وازه خوله يې لکه ورشي خالي پاتې
چې حاصل يې بې نصيب آب و دانه کا"(28)

او يا چې هم څوک له سوچ او فکر نه وزګار شي، د فکر کولو تېر شي، خيالي خوبونه پريږدي، نو بيا ورته (سر له زانو پورته کول) ګړنه استعمالېږي، په لاندې بيت کښې ليدلی شو:

"که په شان د آیینې یې لذت واخلي
سر به کله شیدا پورته له زانو کا"(29)

د پورته ګړنې په مقابل کښې (سر پر زانو ایښودل) محاوره چې موخه یې سوچ کول، فکر او غور کول، په سوچ کښې ډوبېدل دي، یعنې کله چې څوک په څه غم خفګان کښې ګېر شي یا د یو کار په سوچونو او فکرونو کښې بوخت وي او یا هم د محبوب د هجر په خیالونو کښې ډوب وي، نو په داسې حالات کښې خپل سر په زنګون ایښی وي او د دنیا نه لیري چرته د بلې دنیا په شاړو او مېرو کښې د هوا په ټټو سور خپلې ماڼۍ او محلونه ابادوي او لټوي. همدغه مطلب شیدا په ډېر مهارت سره د یو ګړنې په راوړنې سره راوړی:

"هغه لاندې کړ شیدا جهان په فکر
چې یې سر لکه اسمان په زانو کښېښن"(30)

"د زانو په بالین څوک د بېکس سر ږدي
په بستر د خاورو پروت لکه تصویر یم "(31)

همدارنګه خونه پیدا کول، لمر نه سیوري ته تلل، خوندي ځای ته پناه وړلو او د چا څه غم خفګان، مصیبت او تکلیف کمېدل یا ختمېدلو لپاره د (سر سیوري ته کول) ګړنه راوړل کېږي، لکه په عامو خبرو کښې چې وایي: د جمعه خان سر په سیوري شه نور به ځان له غم کوي، دغه مطلب شیدا په لاندې ډول راوړی:

"د صورت په شان غافل شي له آفتاب
ناکسان چې سر په سیوري د دیوار کا"(32)

او یا هم (وابښه په خوله نیول) ګړنه چې دویمه معنا یې ننواتې کول، عذر او زارۍ کول، تسلیمېدل، ګرمتیا منل، پړه منل دي په لاندې بیت کښې راوړل شوي ده:

"که وابښه د کهکشان نیسي په خوله کښې
د اسمان فتنه به ډېر عالم خراب کا"(33)

"وابښه په خوله کښې د کهکشان نیسي
حال د اسمان وینې فتنه جویي مه کړه"(34)

د (شش و پنج) اصطلاح چې غور او فکر، سوچ او پریشاني، وسوسې او غیر واضح صورت حال لپاره استعمالېږي، د (شرح د دېوان کاظم خان شیدا) کتاب کښې ګړنه بلل شوي:

"عاقبت په د دې فرد بازي باخته شي
چارو دو لري تل شش و پنج عبث"(35)

شيدا ډېر سرګردانه او په عذاب دی او د تورو زلفو په خيال کښې دومره ډوب تللی چې ځان په دشته کښې بولي او د دغې سرګردانۍ لپاره يې (تورې شپې اخيستل) ګړنه په عجب انداز کښې راوړې:

"زه په خيال د تورو زلفو آواره شوم
که اخستی تورې شپې په دشته سر يم"(36)

د (سترګې سپنېدل) ګړنه چې په عام ژوند کښې زياته استعمالېږي او مطلب ترې ډېر کتل، د چا لار څارل، ليوالتيا، ډېر ژړل، ړندېدل، بې شرمه کېدل، بې خوبه کېدل او زيات انتظار کول دي، لکه د سترګو تور او د زړه ټکور بنده ليدو ته چې څوک په انتظار وي او کله چې دا انتظار اوږد شي نو بيا سړی بې ارامه او ديدن ته لېواله شي، سترګې يې ديدن غواړي او زړه يې د وصال لمحې او مزې. چې په دې محاوره کښې هم د سترګو د انتظار او د زړه د حالت، کېفيت او جذباتو څرګندونه شوې ده او مطلب يې زيات انتظار کول دي چې سترګې ورپسې سپينېږي. شيدا دغه ګړنه په بېلابېلو شکلونو کارولې:

"سترګې سپنې په کاته د مهر و ما شوې
جلوه ګاه د خپل حرم کړه بام و صحن"(37)
"سترګې يې وينې په ژړا سپينې
پيرۍ چې ملا کړه د اسمان خمه"(38)
"چې انتظار کا د زعفرانو
سترګې لباس کړې په کاته سپينې"(39)

کله چې سوالګر له چا څه غواړي نو په خوله غوښتنه کوي، خو دا چې شيدا هر ډول غوښتل د ځان سپکاوی بولي، د شرمندګۍ احساس کوي او د سوال کولو خوی نه لري، نو د دې لپاره (خوله ورانول) ګړنه چې زارۍ کول دي په ډېر مهارت سره کارولې ده:

"سوال مې خوی له دُر افشانه ابره نه دی
صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو"(40)

د (غوږ نيول) ګړنه ده چې لومړۍ معنا يې غوږ په لاس نيول دي او دويمه معنا يې توجه کول، په کرار خبره اورېدل، پاملرنه او په غور سره خبرې اورېدلو لپاره استعمالېږي، شيدا يې په لاندې ډول کاروي:

"شيدا ولې يې صدف د محيط بولې
غوږ نيولی دی ګوهر د تا سخن ته"(41)

شيدا په يو بيت کښې دوه ګړنې هم استعمال کړې لکه په لاندې بيت کښې:

"په هوا يې سترګې تورې د شاهين کړې
چې بازي کا په تزوير د چرخ کوتره"(42)

پورته بيت کښې يوه د ‹سترګې تورېدل› ګړنه راغلې، چې لومړنۍ معنا د سترګو رنګ اوښتل دي او دويمه معنا يې سر باندې چکر راتلل، ځمکه تاوېدل، په سترګو تپه تياره راتلل دي، همدارنګه بله ګړنه ‹بازي کول› دي، چې معنا يې لوبه کول، جواري کول، غولول او تېر ايستل دي.

همدارنګه د ‹پښې سپکول› ګړنه چې د تښتېدل او تېښته کولو لپاره استعمالېږي، يعنې څوک چې د جنګ په وخت يا د بل څه مصيبت او بلا نه تېښته وکړي، يا څوک د خپل حيا او عزت لپاره د غلت محفل نه ډډه وکړي او يا هم که څوک خطر احساس کړي او د هغه ځايه تېښته وکړي، نو داسې منډې وهلو، تېښتې او ځان ډډې او څنډې کولو ته پښې سپکول وايي، چې شيدا په لاندې ډول کاروي:

"هېڅ و خپلو آبلو ته روان آب غوندې مه ګوره
پښې کړه سپکې په دا لاره ګوندې ورشې تر منزله"(43)

شيدا په لاندې بيت کښې دوه ګړنې استعمال کړي، چې يوه ګړنه ‹سترګې مړېدل› چې محاوره يې معنا يې ارمان پوره کېدل، خوشحاله کېدل دي او بله محاوره پکښې د ‹خوا سړول› دي، چې معنا يې خوښېدل، ارمان ايستل، هيله پوره کېدل او بدل اخيستل دي، لکه:

"په ديدن د زيبا مخ سترګې مړېږي
د آفتاب په چشمه خوا د چا سړېږي"(44)

پورته ګړنې ته ورته بله ګړنه د ‹زړه يخېدل› دي چې شيدا يې په لاندې ډول کاروي:

"زړه مې يخ لکه حباب هغه زمان شي
چې سينه پاره په ځای د ګرېبان شي"(45)

نوټ: پورتني بيت کښې ‹سينه پاره کيدل› بله محاوره ده.

همدارنګه د ‹زړه کاڼی کېدل› ګړنه چې دويمه معنا يې زړه سختېدل، خواخوږي نه کول، ظلم او تېری کول، بې رحمه کېدل دي شيدا په لاندې ډول استعمال کړې:

"د مايې په وخت نازک لکه شيشه وي
په ستم کښې يې زړه کاڼی د کهسار دی"(46)

کله چې څوک خپل يار له لاسه ورکوي، نو د دې لپاره ‹بنګړي ماتېدل› ګړنه چې دويمه معنا يې يارانه ختميدل، مينه له منځه تلل، خپګان پيداکيدل دي استعمالوي، لکه:

"بنګړي چې مات شي غوړي تلېږي
په هوا غوښت شي جام له کولنګه"(47)

همدارنګه د زيات کړېدل، ځورېدل، زهيرېدل، لټون، زحمت ګالل، زيار ويستل، هدف ته ځان رسولو لپاره د ‹پښې تناکښې کېدل› ګړنه استعمالېږي، چې شيدا هم کارولې:

"پښې دې شي دواړه رنې تناکې
تر ښو واخلې يو دوه قدمه"(48)

"چې په خندا کښې دې اوښکې درومي
پښې يې وي دواړه رنې تناکې"(49)

د اشاره کولو، ګوابېدلو او رمز کښې پوهېدلو لپاره د ‹سترګه وهل› ګړنه استعمالېږي، چې شيدا هم په ښه مهارت سره کارولې ده:

"لکه نمر په واحد آن کښې عشوه جوشه
و هر چاته وهي سترګه فتنه کوشه"(50)

د ستونزې او خوارې ګاللو او تکليف تېرولو لپاره د ‹د اوسپنو چنې چيچل› ګړنه شيدا په لاندې ډول کارولې ده:

"د حنظل زړی په ما خوږې منې دي
چې چيچلې مې د اوسپنو چنې دي"(51)

پورته محاوره چې اصل شکل يې ‹د اوسپنې نينې چيچل› دي د سخت او نه منلو کار په وخت کښې استعمالېږي او يا هم کله چې څوک د داسې شخړې او ستونزې سره مخ شي چې د هغې هوارول، تر سره کول او حل کول ورته مشکل او ناممکن وي، نو بيا سړی خپل درد، تکليف، حالات، واقعات او مجبوري د محاورو له لارې څرګندوي.

**پايله**:

هره ژبه ځانګړې محاورې لري، پښتو ژبې هم د نړۍ د نورو ژبو سره خپله سيالي پوره کړې ده او له دې پلوه يوه بډايه ژبه ګڼل کېږي، ګړنې چې د يوې ژبې د لغوي پانګې څرګندونه کوي؛ څومره چې د يوې ژبې محاورې زياتې وي، هومره ژبه بډايه او پراخه ده.

محاوره چې په پښتو ژبه کښې ورته ګړنه وايي، هغه ژبني ترکيبونه دي چې تل په دويمه يا مجازي معنا سره کارېږي او خپله اره معنا له لاسه ورکوي، لکه: ‹اسمان سره خبرې کول› ګړنه چې د لومړۍ معنا لپاره نه استعمالېږي، ځکه چې له اسمان سره خبرې نه کېږي، خو دا محاوره د متکبر انسان غرور لپاره استعمالېږي، يا هم هغه وخت چې د توکو قيمتونه لوړ شي، همدارنګه کله چې انسان په سوچونو او فکرونو کښې ډوب شي او د ځان سره لګيا وي خبرې کوي، نو د هغې لپاره هم دا ګړنه راځي.

محاورې د ژبې او ادب د ورځنيو خبرو اترو يوه قوي برخه ده چې د ژبې معنوي لطافت او خوند زياتوي. محاورې د يو قوم د مزاج، طبيعت، دود و دستور، کړو وړو، ذهن او فکر انځوروي؛ که

ځوک د یو قوم او ولس مطالعه غواړي نو اړینه ده چې د دغه قوم او ولس د مطالعې تر څنګ محاورې هم مطالعه کړي.

محاورې په پښتو شاعرۍ کښې د استعمال مهم ځایونه لري، کلام ښکلی او رنګین کوي، په شعر کښې فصاحت او بلاغت پېدا کوي، شیدا هم په پښتو ادب کښې یو له هغه شاعرانو څخه دی چې په ډېر مهارت او نوښت سره یې ګړنې کارولي دي او په خپلو اشعارو کښې زیات شمېر محاورې د نویو مفاهیمو د بیان لپاره راوړي دي.

## حوالې

(1) شیدا ، کاظم خان، دېوان، (تدوین، سریزه، یادښتونه او ویيپانګه) حنیف خلیل، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه،(۱۳۹۳ل) مخ ۸۰

(2) همدغه ،مخ ۸۸.

(3) خال کوټه،درې میاشتنۍ ادبي مجله، شیدا نمبر، څلورمه، پینځمه ګڼه،: خال پښتو ادبي تړون متحده عرب الامارات، (۲۰۱۷ز)، ۳۷۶

(4) عامر، عبدالکریم،پښتو محاورې. لاهور: پښتو څېړنه لورالائي، (۲۰۱۱ز)، مخ ۴۰

(5) کډوال، شاه محمود، ګړنې، څرګندنې او نومونې. جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه، (۱۳۹۱ل)،مخ ۹

(6)صمیم، محمداصف، د لرغونې شاعرۍ ګړنې(دویم چاپ)، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه، (۱۳۹۵ل)،مخ ۴

(7) پښتو پښتو تشریحي قاموس، لومړی ټوک، خپرندویه: میدیوتیک (د افغانستان لپاره د ټولیزو رسنیو مرکز) د سمون چارې: د افغانستان د علومو اکاډمۍ سلواغه ، ۱۳۸۳ ،مخ ۲۸۵۵

(8) زیار، مجاوراحمد، پښتو پښویه، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، (۱۳۸۴ل)،مخ ۳۲۸

(9) زیار، مجاور احمد، د خوشحال ادبي پښتو (یوه ژبپوهنیزه شننه). دانش خپرندویه ټولنه، (۱۳۸۲)ل مخ ۱۴۹

(10) خلیل، حنیف، شرح د دېوان کاظم خان شیدا. ړومبۍ برخه. پېښور: اعراف پرنټرز محله جنګي، (۲۰۱۷ز)،مخ ۵۶

(11) همدغه، مخ ۹۷

(12) همدغه، مخ ۵۷

(13) همدغه، مخ ۶۱

(14) همدغه، مخ ۶۳

(15) همدغه،مخ ۶۴

(16) همدغه، مخ ۷۰

(17) همدغه،مخ ۱۶۳

(18) همدغه،مخ ۹۱

(19) همدغه، مخ ۹۷

(20) همدغه،مخ ۴۱۹

(21) همدغه،مخ ۲۶۹

(22) همدغه،مخ ۱۰۱

(23) همدغه،مخ ۱۲۲

(24) همدغه،مخ ۱۹۱

(25) همدغه،مخ ۲۴۸

(26) همدغه،مخ ۱۰۵

(27) همدغه،مخ ۱۰۶

(28) همدغه،مخ ۱۰۹

(29) همدغه،مخ ۱۱۰

(30) همدغه،مخ ۱۲۹

(31) همدغه،مخ ۱۹۵

(32) همدغه،مخ ۱۱۰

(33) همدغه،مخ ۱۱۲

(34) همدغه،مخ ۳۶۲

(35) خلیل، حنیف، شرح د دیوان کاظم خان شیدا. ړومبی برخه. پېښور: اعراف پرنټرز محله جنګي، (۲۰۱۷ز)،مخ ۳۲۹

(36) همدغه،مخ ۱۴۴

(37) همدغه،مخ ۱۵۳

(38) همدغه،مخ ۳۷۱

(39) همدغه،مخ ۴۴

(40) همدغه،مخ ۱۵۴

(41) همدغه،مخ ۱۷۰

(42) همدغه،مخ ۱۸۱

(43) همدغه،مخ ۲۰۴

(44) همدغه،مخ ۲۳۷

(45) همدغه،مخ ۲۴۵

(46) همدغه،مخ ۲۵۸

(47) همدغه،مخ ۳۶۷

(48) همدغه،مخ ۳۷۱

(49) همدغه،مخ ۴۰۹

(50) همدغه،مخ ۴۵۱

(51) همدغه،مخ ۴۶۴